شیرمحمد((اميني)) ستانکزی ۲۰۱۵/۱۰/۲۶

# ځوانان ولې له هيواد څخه تېښتې ته اړکيږي؟

افغان ولس د خپل اقتصاد د پياوړتيا له کبله بهرنيو هيوادونو ته سفرکوي، ځکه افغانستان د تيرو لسيزو، جنګونو او جګړو له کبله اقتصادي توان يې له لاسه ورکړي ؤ، ډېرى افغانان يې فقر او بېچارګۍ په ډګر پريښوول، چې دلته په هيواد کې هم د کار کولو او د اقتصادي ځواکمنتيا له پاره کوم سرچينه نه درلوده او له دې امله بهرته ستون کيدل، چې اکثره پاکستان، ايران، عربي متحدو هيوادونو او ډير کم اروپايي او نورو هېوادونو ته د کار کولو لپاره تلل، خو کله چې په افغانستان کې نوى حکومت رامنځته شو، د خلکولپاره د کارکولو، زده کړو او ځينې نورې چارې برابرې شوې. د پاکستان او ايران هيوادونو څخه افغان کډوال د هيواد په لور راکډه شول او په هيواد کې يې د نورو افغانانو په خير کارونه پيل کړل، خو بدبختانه ويلاى شو، چې د نوي حکومت په يوه لسيزه کې د ناامنيو او د کارکولو زمينې سستې او د افغانانو اقتصاد د سترګو په ليد کمزورى شو، نو له دې امله دوي يوځل بيا په دې فکر او سوچ کې شول، چې څنګه د هيواد څخه بهر ولاړشي او د نفقې د پيداکولو لپاره هلې ځلې وکړي چې دلته کومه ناامنۍ خوره شوې. په لړکې کله چې دجرمني حکومت د۸۰۰ زرو افغان کډوالو لپاره اعلان وکړ، چې دوى ته د اوسيدو ځاى برابر او په اسانۍ توګه د قبوليت امکانات په لاس کې ورکوي له دې کبله او سمهال ډيرى تنکي ځوانان د جرمني هيواد په لورې تګ ته د ډيرو پيسو په مقابل کې زړونه ښه کوي او ورځي. ځيني خپلو موخوته رسيږي او ځينې بيا په لارو او نورو هيوادونو کې پاتې کيږي او داسې ويل کيږي، چې ډير کډه شوي افغانان بيا د بحر په اوبو کې لاهو شوي دي. زياتره افغانان د دې ناقانونه تګ پړه پر دولت اچوي،ځکه دوى وايي: چې بايد دولت په هيواد کې د ناامنيو مخه ونيسي، خلکوته د کارکولو او د زدکړو زمينه برابره کړي او کله چې هغه زده کړيالان له تحصيلي موسسو څخه فارغيږي په دولتي ادارو کې ورته د کارکولو موقع برابره کړي. نو د دې سره به د بهرنيو هيوادونو ته د ستنيدو ناورين مخه ونيول شي. که چيرته دغه آسانتياوو ته هيوادوال لاس رسى پيدا نه کړي، نو دوى اړ دي، چې دخپل ژوند پرمخ بيولو او خوندي کولو لپاره هيواد پريږدي او بهر ته ستانه شي د هيواد رغاونه او جوړونه د نوې نسل لپاره اړينه ده، چې دوى په خپل هيواد کې وروزل شي، سم ملي، افغاني او وطنپالنه روحيه دوي ته په ورکولو سره د هيواد ملي چارې وسپارل شي او د خپل هيواد په غيږه کې د خلکو د چوپړ جوګه وګرځي، نه داچې دغه اوسني تنکي ځوانان بهر ته کډه کيږي او بيا مونږ د هغوى څخه کومه تمه ولرو، چې د هيواد په آبادۍ کې کاروکړي، هيڅکله هم داسې نه کيږي، ځکه د دوى د پوهې تمرکز د ودې حالات ته نه دى رسيدلي، نوي د ودې په حالات کې قرارلري او هلته چې خپل ژوند غوره کړي، نو بيا د افغاني ملي کلتور هرڅه ورڅخه هير وي او سم د هماغه هيواد په فرهنګ ځان برابره وي او څنګه چې مخکې مو هغه هيوادوال په بهر کې تر اوسه اوسيدلي دي، د خپل هيواد پروا نه لري، صرف يو د افغان نوم باندې وياړي، نور د خداى وبښي د هيواد ساتلو، جوړولو او اقتصادي پياوړتيا لپاره هيڅ کوم پلان او پروا ئې هم نه لري. نو دمګړۍ هغه نوي او کوم کسان چې تللي او روان دي هم د دوى په شان پاتې کيږي او بيا مونږ د چاه نه هيله ولرو، چې وطن مو د سوکالۍ لورې ته سوق کړي. دولت بايد په جدي توګه د هيواد د امنيت خونديتوب لپاره، چې په امنيت راوستو کې هر څه تر سره کيداى شي، لازم تدابير اوځانګړى پلان جوړکړي، بهرته د تللو افغانانو مخه ونيسي، بنسټيز کارونه د ورته په لار واچوي له يو پلوه به د دوى په مصروفيت او اقتصاد په لوړتيا کې مرسته وکړي او له بل پلوه به د وطن په پرمختګ کې ګټور کار شميرل کيږي او د افغان ملي يوالې به نوروهيوادوالوته څرګندشي، چې ګويا افغان سره په خپلوکې يوالى، اتحاد او ورونه دي. کوم پلانونه چې بهر کې د افغانانو د تيتولو او بيلولو لپاره جوړيږي، هغه هم د ناکاميو او د شرمندګيو سره مخ شي او که د الله تعالى خوښه وي، ژربه هغه وخت را ورسيږي، چې ټول افغان ملت په خپل هيواد کې سره په ګډه د وطن جوړولو او بيا ودانولو لپاره متې راونغاړي او ګران افغانستان به د هغو هيوادونو په قطار کې ودروي، البته د پرمختګ له پلوه؛ کوم چې نن يې افغانان په لټه کې دي .ان شاءالله



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په خير و لولئ